د افغـــانستان اســـلامي امـــارت
د ارشـــاد، حج او اوقـــافو وزارت
د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست

د جمعې ورځې د خطابت موضوع او
ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو
ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.

---

۲۷/ جمادي الثانية /۱۴۴۴ هـ، ق موافق به ۳۰/ جدي/۱۴۰۱هـ، ش

# د اسلام د پنځو بناوو بيانول

الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأن محمدا - صلى الله عليه وسلم - عبده ورسوله؛ أما بعد.

د اسلام مقدس دين په پنځو بناګانو بناء دی چې هغه کلمه طيبه ده ، لمونځ دی ، روژه ده ، زکات دی او د بيت الله شريف حج دی. لکه چې په حديث شريف کې راځي د عبدالله بن عمررضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: (بُنِيَ الإِسْلامُ عَلى خَمْسٍ: شَهادَةِ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ وَإِقامِ الصَّلاةِ وَإِيتاءَ الزَّكاةِ وَالْحَجِّ وَصَوْمِ رَمَضَانَ). صحيح البخاری

ترجمه:- اسلام په پنځو بناوو بناء دی چې شهادت ورکول دي په دې خبره چې نشته بل اله ماسوا د الله تعالی څخه او شهادت ورکول دي په دې چې محمدـصلی الله عليه وسلم- دالله تعالی رسول دی او قائمول د لمانځه دي او ورکول دزکات دي او حج دی او روژه نيول د رمضان ده.

همدا راز د جبرائيل عليه السلام په هغه مشهور حديث کې هم د اسلام پنځه بناګانې په ترتيب سره ذکر شوي دي.

لومړی بناء:- د توحيد کلمه (لا إله إلا الله).

د اسلام له پنځو ارکانو څخه لومړی رکن د توحيد کلمه ده. هغه کلمه چې د الله تعالی په خپلو بندګانو خالص حق دی، هغه کلمه چې مسلمان له کافر څخه بيلوي، هغه کلمه چې د دين لوی، لومړی رکن او اساس دی او جنت ته دداخليدو شرط دی او د سعادت کيلي ده.

د جبرائيل عليه السلام د حديث او د ابن عمر له حديث څخه معلوميږي چې دتوحيد کلمه د اسلام لومړی او اساسي رکن دی چې ديته د اخلاص کلمه او کلمه طيبه هم ويل کيږي.

دتوحيدکلمه د ددوه جملو څخه جوړه ده چې لومړی جمله يې عبارت دی د ( لااله الا الله) څخه، چې د الله تعالی په يووالي او وحدانيت اقرار کول دي.

دوهمه برخه يې ( محمدرسول الله) ده چې په دې کې د محمدصلی الله عليه وسلم په رسالت او نبوت باندې اقرار او اعتراف کول دي.

د ( لااله الاالله) مفهوم:-

( لااله الا الله) دوه اساسي رکنونه لري :

- یو رکن یې ( لا اله ) دی چې ماسوا دالله تعالی څخه د هر نوع عبادت د هر مخلوق څخه نفی کوي.
- او بل رکن يې ( الا الله ) دی چې تنها الله تعالی دهر ډول عبادت مستحق معرفي کوي. نو د ( لا اله الا الله ) مفهوم داسې شو( هیڅوک او هیڅ شی د عبادت او بندګۍ مستحق نشته ماسوا دالله څخه.
د ( محمدرسول الله) مفهوم:-
دوهمه جمله دتوحيد د کلمې دوهمه برخه په مختصره توګه لاندې مطالبوته شامل ده:
- داسلام په پیغمبر صلی الله علیه وسلم ایمان درلودل په حیث د اخري او خاتم النبیین پیغمبر په توګه .
- په دې باور درلودل چې پیغمبرصلی الله علیه وسلم بنده او رسول د الله تعالی دی ټول جهان او جهانیانو ته.
- په دې باور کول چې د پیغمبرعلیه السلام دین او آئین ، ددواړو جهانونو د سعادت لپاره کامل او ضامن دین دی.
- دپیغمبر علیه السلام اطاعت او پیروي کول، دالله تعالی اطاعت دی او د پیغمبر علیه السلام نافرماني او معصیت د الله تعالی څخه نافرماني او معصيت حسابيږي.
- د نجات لار او سعادت په دین کې او د پیغمبر علیه السلام په پیروۍ کې ګڼل او پیغمبر علیه السلام د ځان، مال ، اولاد او د هرڅه نه محبوب تر ګڼل .
د کلمه توحید فضیلت:- د توحید کلمه دومره فضیلتونه لري چې قلم یې د لیکلو څخه عاجز دی.
کلمه د توحید باندې الله تعالی ګواهي ورکړې ده . {شَهِدَ اللهُ أَنَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ وَالمَلاَئِكَةُ وَأُولُو العِلْمِ قَائِماً بِالقِسْطِ لاَ إِلَهَ إِلاَ هُوَ العَزِيزُ الحَكِيمُ} آل عمران: ۱۸
ترجمه:- الله ګواهي ورکړې ده ددې خبرې چې یقینا نشته هیڅ لائق د عبادت مګر همدی دی او ملائکو او دعلم خاوندانو( هم) په داسې حال کې چې دی په انصاف سره قائم دی، نشته هیڅ لائق دعبادت مګر همدی دی چې ډیر غالب ښه حکمت والا دی.
د ټولو پیغمبرانو او رسولانو ددعوت موضوع کلمه د توحيد وه. {وَمَا أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِنْ رَسُولٍ إِلاَّ نُوحِي إِلَيْهِ أَنَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنَا فَاعْبُدُونِ} الأنبياء: ۲۵
ترجمه:- او مونږ له تانه مخکې هیڅ رسول نه دی لیږلی مګر چې هغه ته به مونږ (دا) وحی کوله چې بیشکه شان دادی چې له مانه پرته بل هیڅ حق معبود نشته لهذا تاسو زما عبادت کوئ.
سفیان بن عیینه رحمه الله فرمایي: الله تعالی پربندګانو باندې ددې څخه بل لوی نعمت نه دی کړی چې ورته یې د لااله الا الله کلمه ښوولی ده.[شعب الایمان]
الله تعالی کلمه توحید ته په قرآن کریم کې کلمه طیبه ویلی ده: {أَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ اللهُ مَثَلاً كَلِمَةً طَيِّبَةً كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَفَرْعُهَا فِي السَّمَاءِ}. ابراهيم:۲۴
ترجمه:- آیا ته نه وینئ چې الله څنګه یو مثال بیانوي پاکیزه کلمه ( چې لااله الا الله ده) د هغې پاکیزه ونې په شان ده چې د هغې بیخ کلک او مضبوط وي ( په ځمکه کې) او د هغې څانګې په آسمان کې وي.
د توحید کلمې شرطونه:-
د توحید کلمې (لآ اله الا الله) لپاره علماوو لاندې شرطونه ذکر کړي دي:
۱ـ د کلمه توحید په معنا باندې پوهیدل: د توحید دکلمې یو شرط دادی چې د دې کلمې په مفهوم او معنا باندې پوهه او علم

درلودل دي؛ لکه چې الله جل جلاله فرمايي: (فَاعْلَمْ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ).محمد: ١٩. ترجمه: نو پوه شه چې الله جل جلاله پرته بل څوک معبود نشته.

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: ( من مات و هو يعلم أنه لآ اله الا الله دخل الجنة).صحيح مسلم

ترجمه:- څوک چې په داسې حال کې مړشي چې دی پوهه لري په دې باندې چې د الله جل جلا له پرته بل څوک لا ئق د عبادت نشته نو جنت ته به داخل شی.

۲ـ د توحيد کلمه باندې داسې يقين در لودل چې هيڅ شک په کې نه وي: د توحيد کلمې ويونکی ته لازم دی چې د هغې په مدلول او مفهوم باندې پوره يقين ولري، که چيری په زړه د چا کې هغې په وړاندې شک او ترديد شتون ولری نو د هغې ويلو څخه کومه ګټه نشی پورته کولای؛ الله جل جلاله فرمايي: (إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ لَمْ يرتابوا).الحجرات: ١٥

ترجمه:- بيشکه مؤمنان هغه کسان دي چې په الله او د هغه په رسول يې ايمان راوړی دی بيا يې شک نه دی کړی.

۳ـ د کلمې طيبې په ويلو کې د اخلاص لرل : رسول الله صلى الله عليه وسلم په دې اړوند فرمايي: ( فان الله حرم على النار من قال لآ اله الا الله يبتغي بذلک وجه الله) صحيح البخاری. ترجمه: الله جل جلاله په اور باندې هغه څوک حرام کړيدی چې ويلې وی: لآ اله الا الله په داسي حال کې چې پده سره يوازې رضا د الله جل جلاله يې مراد وی.

۴ـ د توحيد کلمې په ويلو کې صداقت او رښتينولي درلودل : دتوحيد دکلمې په ويلو کې داسی رښتينولي لرل چې له هر ډول دروغو او ټګی برګی څخه پاکه وي، چې د زړه له کومي څخه و ويلي شي. رسول کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: ( ما من أحد يشهد أن لآ اله الا الله و ان محمدا رسول الله صادقا من قلبه الا حرمه الله على النار )متفق عليه

ترجمه:- هرڅوک چې د زړه له کومي او د اخلاص څخه په دې شهادت ورکړی چې ( لا اله الا الله ) او په دې چې محمد صلى الله عليه وسلم د الله رسول دی، مګر دا چې الله جل جلاله به حرام کړي ده لره په اور باندې .يعنی حرام به کړي پر ده باندې اور دجهنم.

۵ ـ الله پاک او د هغه را ليګل شوی رسول سره مينه او محبت کول: داسی مينه چې د هر ډول دښمنۍ څخه لاس واخلي الله جل جلاله او د هغه رسول صلى الله عليه وسلم سره به داسې مينه او دوستي لري چې د هر ډول دښمنۍ او تربګني څخه لاس واخلي، تر څو پوره اړيکې يي د الله توحيد سره قايمې شي، لکه څرنګه چې الله پاک فرمايي: (وَالَّذِينَ آمَنُواْ أَشَدُّ حُبًّا لِّلّهِ)البقرة : ١٦٥.

ترجمه:- او هغه کسان چي ايمان يې راوړی دی له الله سره په مينه کې ډير سخت ( او کلک) دي.

٦ـ الله جل جلاله ته پوره تسليميدل : د الله تعالى احکامو او فرامينو ته د تسليميدو په هکله فرمايي: (وَأَنِيبُوا إِلَى رَبِّكُمْ وَأَسْلِمُوا لَهُ) الزمر: ۵۴ ترجمه: او تاسو خپل رب ته رجوع وکړئ او هغه ته غاړه کيږدئ.

۷ـ د الله جل جلاله څخه پرته د مخلوق د عبادت څخه بيزاري :د الله جل جلاله څخه پرته د هر څه عبادت څخه کفر، انکار او بيزاری د مثال په توګه: د طواغيتو، بتانو، او نورو ټولو خواهشاتو او ځاني يا کورني او ډليي غير شرعي تقاضاوې او داسي نورو... څخه ځان ژغورنه . الله جل جلاله فرمايي: ( فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِنْ بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَى).البقرة: ٢٥٦

ترجمه:- نو چاچې له طاغوت (شيطان، بت) نه انکار وکړ او پر الله يې ايمان راوړ نو يقينا ده ډيره مضبوطه کړی ټينګه ونيوله.

دوهمه بناء ، لمونځ :- داسلام دوهمه بناء لمونځ دی. لمونځ په اسلام کې لوړ مقام او مرتبه لري، لمونځ د دين ستن او اساسي رکن دی، لمونځ هغه عمل دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د هغه په اداء کولو امر او نصيحت کړی دی.

لمونځ هغه عبادت دی چې د معراج په شپه په آسمان کې فرض شوی او په دين کې له ډير ارزښت څخه برخمن دی او په ټولو عبادتونو کې غوره او بهتر عمل ګڼل کيږي. لمونځ يوه رڼا ده چې انسان ژوند ته روښنايي وربښي او د هغه د خلاصون لامل کيږي او د خپل الله سره اړيکي پرې ټينګيږي، لمونځ د مؤمن معراج دی د دې عبادت په واسطه بنده د الله تعالی سره مناجات کوي او له هغه څخه پرې ښښنه غواړي او په يوه شپه او ورځ کې پنځه ځله پرې خپله ژمنه نوې کوي .لمونځ د درجاتو د لوړتيا سبب، د ګناهونو کفاره او جنت د ننوتو لامل دی، روزي پرې پراخيږي او سړی له ناوړه او بې حيا کارونو څخه بندوي او ټولنو ته پيوند ورکوي .

لمونځ د غم او ستونزو په وخت کې انسان ته روحي آرامتيا وربښي او لمونځ هغه يوازنی عمل دی چې د قيامت په ورځ تر ټولو لومړی د دې عمل په هکله پوښتنه کيږي، په هغه ورځ چې نه مال په کې په درد خوري او نه اولاد، مګر هغه څوک چې په سليم زړه د الله سره مخامخ شي .نو له دې وجې الله تعالی امر کړی چې د دې عمل ساتنه وکړو او خپل اهل او اولاد ته پرې امر وکړو او د ټولو ارکانو سره يې اداء کړو . الله تعالی فرمايي: (وَأَقِيمُواْ الصَّلاَةَ وَآتُواْ الزَّكَاةَ وَارْكَعُواْ مَعَ الرَّاكِعِينَ). البقرة : ۴۳ ترجمه: او لمونځ قايم کړئ، زکات ورکړئ او د رکوع کوونکو سره رکوع وکړئ.

الله تعالی فرمايي : (حَافِظُواْ عَلَى الصَّلَوَاتِ والصَّلاَةِ الْوُسْطَى وَقُومُواْ لِلّهِ قَانِتِينَ ). البقرة : ۲۳۸

ترجمه:- د لمونځونو ساتنه کوئ او ( خصوصا) د منځني لمونځ او الله ته ودريږئ عاجزي کوونکي.

او الله تعالی فرمايي : (إِنَّ الصَّلاَةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَابًا مَّوْقُوتًا ). النساء : ۱۰۳

ترجمه:- بيشکه لمونځ له شروع نه په مؤمنانو باندې په (معلومو) وختونو کې فرض کړی شوی دی.

همدارنګه الله فرمايي : (إِنَّنِي أَنَا اللَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنَا فَاعْبُدْنِي وَأَقِمِ الصَّلاَةَ لِذِكْرِي ) طه : ۱۴

ترجمه:- بيشکه زه چې يم زه الله يم ، نشته دی هيڅ لائق د عبادت مګر همدا زه يم، نو ته زما عبادت کوه او زما د يادولو لپاره لمونځ قائموه.

او فرمايي : (وَأَقِمِ الصَّلاَةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ذَلِكَ ذِكْرَى لِلذَّاكِرِينَ). هود : ۱۱۴

ترجمه:- او ته لمونځ قائموه د ورځې په دوه طرفونو کې او دشپې په څه ساعتونو کې ، بشکه نيکيانې بديانې لرې کوي ، دا د ذکر کوونکو ( نصيحت قبلوونکو) لپاره نصيحت دی.

وعن ابن عمر رضي الله عنهما، قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :(بُنِي الإِسْلاَمُ على خَمْسٍ : شَهَادَةِ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ، وَإِقَامِ الصَّلاَة، وَإِيتَاءِ الزَّكَاة، وَالْحَجِّ وَصَوْمِ رَمَضَانَ).متفق عليه

ترجمه:- له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی هغه وايي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : اسلام په پنځو بناوو بناء شوی دی : د دې ګواهي ورکول چې د الله جل جلا له څخه پرته بل د عبادت لا يق نشته او محمد صلی الله عليه وسلم د الله رسول دی، د لمانځه اداء کول، د زکات ورکول، د الله د کور حج اداء کول او د روژې د مياشتې روژه نيول دي .

عن عبادة بن الصامت رضي الله عنه، قال : سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول : (خَمْسُ صَلَوَاتٍ افْتَرَضَهُنَّ اللهُ تَعَالَى، مَنْ أَحْسَنَ وُضُوءَهُنَّ وَصَلاَهُنَّ لِوَقْتِهِنَّ، وَأَتَمَّ رُكُوعَهُنَّ وَخُشُوعَهُنَّ، كَانَ لَهُ على اللهِ عَهْدٌ أَنْ يغْفِرَلَهُ، وَمَنْ لَمْ يفْعَلْ، فَلَيسَ لَهُ على اللهِ عَهْدٌ، إِنْ شَاءَ غَفَرَلَهُ، وَإِنْ شَاءَ عَذَّبَهُ). رواه ابوداود و ابن ماجه

ترجمه:- عباده بن صامت رضي الله عنه وايي : د نبي كريم صلى الله عليه وسلم څخه مې اوريدلي دي چې فرمايل يې پنځه لمونځونه دي چې الله تعالى فرض كړي دي، څوک چې د دې پنځو لمونځونو لپاره په ښه توگه اودس وكړي او هغه په ټاكلو وختونو كې اداء كړي، ركوع او خشوع يې په كامله توگه ترسره كړي، ده ته د الله وعده ده چې ببښي يې او كه څوک داسې ونكړي ده ته د الله په وړاندې هيڅ ډول ژمنه نشته، كه الله وغواړي وبه يې ببښي او كه وغواړي عذاب به وركړي .

عن أبي هريرة رضي الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : (إِنَّ أَوَّلَ مَا يُحَاسَبُ بِهِ العَبدُ يَوْمَ القِيَامَةِ مِنْ عَمَلِهِ صَلاتُهُ، فَإِنْ صَلُحَتْ فَقَدْ أَفلَحَ وَأَنْجَحَ، وَإِنْ فَسَدَتْ فَقَدْ خَابَ وَخَسِرَ، فَإِنْ انْتَقَصَ مِنْ فَرِيضَةٍ شَيئاً قَالَ الرَبُّ تَبَارَكَ وَتَعَالى: انْظُرُوا هَلْ لعبديٍّ من تَطَوعٍ فَيُكمِلُ بِهَا مَا انْتَقَصَ مِنَ الفَرِيضَةِ، ثُمَّ يَكُونُ سَائِرُ عَمَلِهِ عَلَى ذَلِكَ). رواه الترمذي

ترجمه:- له ابو هريره ر ضى الله عنه څخه روايت دى هغه وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: پرته له شک هغه لومړنى عمل چې د قيامت په ورځ د انسان سره پرې محاسبه كيږي، د ده لمونځ دى ـ كه يې لمونځ سم او برابر ؤ، نو يقينا بريالى او كامياب شو او كه يې لمونځ خراب او ناسم ؤ، نو يقينا هلاک شو او په تاوان كې ولويد او كه په فرضو كې څه كم كړي، نو الله وايي وگورئ آيا زما د بنده لپاره څه نفل شته، ترڅو د فرضو كموالى يې پرې پوره كړشي او بيا يې نور عملونه په همدې توگه حسابيږي .

عن عثمان بن عفان رضي الله عنه، قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: (مَا مِن امْرِئٍ مُسْلِمٍ تَحْضُرُهُ صَلَاةٌ مَكْتُوبَةٌ ،فَيحْسِنُ وُضُوءَهَا وَخُشُوعَهَا وَرُكُوعَهَا، إِلَّا كَانَتْ كَفَّارَةً لِمَا قَبْلَهَا مِنَ الذُّنُوبِ مَالَمْ يأْتِ كَبِيرَةً، وَذَلِكَ الدَّهْرَ كُلَّهُ). مسلم

ترجمه:- له عثمان بن عفان رضي الله عنه څخه روايت دى هغه وايي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : هيڅ مسلمان شخص داسې نشته چې فرضي لمونځ وخت ورته حاضر شي او بيا دهغه لپاره په ښه توگه اودس وكړي او خشوع او ركوع يې هم په ښه طريقه وكړي، نو دا لمونځ د ده د هغو گناهونو كفاره جوړيږي چې مخكې يې كړيدي، ترڅو چې د لويې گناه مرتكب شوى نه وي او دا ښيگڼه او غوره والى د ده تر ټول عمره پورې دوام لري .

عن أنس بن مالک رضي الله عنه، قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: (وَجُعِلَتْ قُرَّةُ عَينِي فِي الصَّلَاةِ ). النسايې

ترجمه:- له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دى، هغه وايي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: گرځول شوى دى زما د سترگو يخوالى په لمانځه كې.

روژه د اسلام د پنځو بناگانو څخه دريمه بنا ده او ددين مهم ركن دى : الله تعالى فرمايلي دي: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ} البقرة:۱۸۳

ترجمه:- اى هغو كسانو چې ايمان يي راوړى دى پرتاسو باندې روژه فرض كړى شوى ده لكه چې فرض كړى شوى وه پرهغو كسانو چې له تاسو نه مخكې ؤ، ددې لپاره چې تاسو متقيان شئ.

د روژې فضيلت:-

په حديث شريف كې راځي چې روژه گناهونه رژوي. (من صام رمضان إيماناً واحتساباً غفر له ما تقدم من ذنبه) متفق عليه.

ترجمه:- څوک چې روژه ونيسي د رمضان مياشت د ايمان په بنا او د اجر په نيت وبه ببښل شي ورته هغه گناهونه چې مخكې يې كړي دي . په يو بل حديث شريف كې راځي: (يضاعف الحسنة عشر أمثالها إلى سبعمائة ضعف، قال الله عزّ وجلّ: إلا الصوم، فإنه لي وأنا أجزي به، يدع شهوته وطعامه من أجلي). صحيح البخاري

ترجمه:- زیاتیږي اجر د نیکۍ تر اوه سوه پورې . الله تعالی فرمایې ماسوا د روژې څخه ځکه روژه زما لپاره ده او زه به یې اجر ورکوم، پریږدي روژه دار خپل خواهش او خپل خوراک زما د رضا لپاره.
د روژه دار دعاء مستجاب ده.پیغمبرعلیه السلام فرمایلي دي:( للصائم عند فطره دعوة لا ترد). رواه ابن ماجه.
ترجمه:- د روژه دار لپاره د روژه ماتي په وخت کې دعاء ده چې نه رد کیږي.
په جنت کې به د روژه دارو لپاره مخصوصه دروازه وي چې بل څوک وربانديې نشي ننوتلی: عن سهل بن سعد رضي الله عنه قال ، قال: رسول الله صلى الله عليه وسلم: (إن في الجنة باباً يقال له "الريان" فإذا كان يوم القيامة قيل: أين الصائمون، فإذا دخلوا أغلق عليهم فلم يدخل منه أحد). متفق عليه.
ترجمه:- بیشکه په جنت کې یوه دروازه ده چې (ریان ) ورته ویل کیږي یعنی خړوبونکې .کله چې د قیامت ورځ شي وبه ویل شي چیرته دي روژه داران؟ کله چې روژه دار وربانديې داخل شي ورپسې به بنده شي . ددې دروازې څخه به بل څوک نه داخلیږي.
روژه د روژه دار لپاره به شفاعت کوي. په حدیث شریف کې راځي:(الصيام والقرآن يشفعان للعبد يوم القيامة). أحمد.
ترجمه:- روژه او قرآن کریم دواړه به شفاعت کوي د بنده په ورځ د قیامت کې.
دروژې فوائد او حکمتونه :-
د ټولو څخه مخکې انسان باید دا خبره په ذهن کې کښېنوي چې روژه د الله تعالی حکم دی او الله حکیم او دانا ذات دی او (فعل الحکیم لایخلو عن الحکمة » او د حکیم کار د حکمت څخه خالي نه وي که زموږ په دماغ کې هغه حکمت راځي او که نه راځي خو روژه د الله جل جلاله حکم دی. روژه هم یو لړ حکمتونه لري چې ځینې یې په لاندې ډول دي:
اول حکمت :- د بدن د صحت دپاره روژه د اکسیر درجه لري ځکه زیات مرضونه د انسان په بدن کې د زیات خوراک او بې ترتیبه خوراک په وجه وي .
دوهم حکمت :- مالداره خلکو ته د همدردی جذبه په دماغ کې ورکول دي. مالدار ته وریادوي چې یوې میاشت لوږې او تندې تاسو یې په تکلیف کړي یاست، خو غریب کال دولس میاشتې د لوږې او تندې په دې تکلیف کې مبتلاء وي . لهذا د غریب سره د همدردی احساس وکړئ او د غریب د همدردۍ سوچ په خپل دماغ کې را وګرځوئ او د ده د مدد دپاره کمربسته کړئ.
دریم حکمت :- د اسلامي برابرۍ دپاره روژه یوه اعلی نمونه ده چې ټول مالدار ، مسکین ، امیر ، او فقیر په یورنګ د خوراک او څښاک څخه منع وي.
څلورم حکمت :- د د نفساني خواهشاتو او جسماني شهواتو د کنټرول او قابو کولو دپاره روژه بهترین عمل دی .
پنځم حکمت :- په سختیو باندې د ځان عادت کولو لپاره روژه نیول غوره طریقه ده ، لهذا کوم مسلمان چې په روژه نیولو عادت وي، هغه د هر مشکل په تحمل کې زیات چست او قوي وي . په ځانګړې توګه د جهاد په میدان کې د انسان دپاره په ورځو ورځو خوراک میسر نه وي ، نو هلته انسان ته د روژې فائده معلومیږي، ځکه دا امت ډېر زیارکښه او زحمت کښه امت دی، نو د دې امت دپاره ضروري ده چې ځان په روژه عادت کړي. ځکه زموږ د نبي نوم په مخکني اسماني کتابو کې " نبي السیف " سره راغلی دی یعني توري والا نبي او دغه رنګه " نبي الملحمه " سره راغلي دی یعني د سختو جنګونو والا نبي هغه

خپله ټوله مدني زندګي په جهاد کي تېره کړې ده ، هغه په خپل ژوند کي په اوه ويشت ( ۲۷ ) غزاګانو کي شرکت کړی دی، مونږ چې د هغه امتيان يو بايد ځان په سختو وروزو .
**ځلورمه بناء: زکات:-** زکات د دين له ارکانو څخه يو رکن او د اسلام له فرائضو څخه يوه فريضه ده. الله تعالی د قرآن کريم په (۸۲) ځايونوکې زکات د لمانځه سره پيوست ياد کړی دی او هغه يې د مال د پاکۍ او سپيځلتيا او دهغه د ودې او زياتيدو لامل ګڼلی دی، ځوک چې د خپل مال زکات اداء کړي په حقيقت کې الله تعالی د ده د مال شر له ده څخه لرې کوي او ځوک چې د خپل مال زکات د نفس په خوشحالۍ اداء کړي د ايمان خوږوالی ځکي، د زکات اداء کول د انسان ټولنيزې اړيکې سره ټينګوي او شفقت او مهرباني او همغږي د ټولني د وګړو ترمنځ رامنځ ته کوي.

### د زکات فلسفه:-

د دنيا د مجازي عاشقانو دا دستور او رواج دی ، چي کله په زباني تعريف سره محبوب په لاس نه ورځي ، او د تعظيم په طريقه کي هم کاميابه نه شي ، نو بيا هغه د محبوب د حاصلولو دپاره مال مصرفوي ، چنانچه په دغه لار کي بيا هيڅ ځوک بخل نه کوي ، بلکه چي ځومره بخيل انسان وي ، نو په دغه لار کي بيا ډېر لوی مال مصرفوي .
شريعت مطهره د الله تعالی چي د ټولو انسانانو محبوب حقيقي دی ، د راضي کولو دپاره اود ده د وصل او قربت دپاره په دغه مرحله کي د زکات نظام رائج کړی دی . چي هر صاحب حيثيت انسان به د خپل مال څخه يو مخصوصه حصه باسي ، او تر غريبانو پوري به ئې رسوي ، چي محبوب حقيقي خوشحاله او راضي شي ، ځکه ظاهراً په زباني تعريف او د تعظيم په لار د ده مطلوب تر اوسه پوري ده ته نه دی حاصل شوی . او د زکات په ورکولو سره د ده په زړه کي د الله تعالی د مخلوق همدردي او محبت پيدا کيږي ، او الله تعالی خپل قرب او وصال هغه چاته ورکوي او محبت د هغه چا سره کوي چي د ده د مخلوق سره محبت لري . لکه : پيغمبر ﷺ فرمايی : (الخلق عيال الله ، فأحبهم إلى الله أنفعهم لعياله) . مسند ابويعلی ، مسند البزار
ترجمه:- مخلوق الله تعالی ته محتاج دي ، پس غوره الله تعالی ته دخلکو څخه هغه کس دی چي نفع رسوي د الله تعالی فقيرانو ته د زکات په وجه الله تعالی موږ په دنيا او آخرت کي د خپلې ناراضۍ او غضب څخه محفوظ ساتي؛ لکه چې پېغمبر ﷺ فرمايي :( إن الصدقة لتطفئ غضب الرب وتدفع ميتة السوء ).سنن الترمذی
ترجمه:- صدقه کول نفلي وي ، او که فرضي دا د الله تعالی غضب او غصه سړوي ، او د صدقې په ذريعه الله تعالی انسان د بېکاره مرګ څخه محفوظه ساتي .

### د زکات حکم او د زکات نه ورکوونکو لپاره وعيد:

زکات ورکول په هغه کس باندې فرض دي چې د نصاب خاوند وي او په مال يې يو کال تيرشي.
ځوک چې د زکات د حکم څخه منکر شي هغه کافر دی او ځوک چې زکات د بخل او سستۍ له امله نه ورکوي د کبيره ګناه مرتکب او فاسق دی.
الله تعالی فرمايي: (وَأَقِيمُواْ الصَّلاَةَ وَآتُواْ الزَّكَاةَ وَارْكَعُواْ مَعَ الرَّاكِعِينَ ). البقرة : ۴۳
ترجمه:- او لمونځ قايم کړئ او زکات ورکړئ او کوم خلک چې رکوع کوي تاسې هم له هغو سره رکوع وکړئ.

الله تعالی فرمايي : (وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلاَ يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ اليمٍ . يَوْمَ يُحْمَى عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَى بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْ هَـذَا مَا كَنَزْتُمْ لأَنفُسِكُمْ فَذُوقُواْ مَا كُنتُمْ تَكْنِزُونَ ) التوبة : ۳۴ -۳۵

ترجمه:- او هغه کسان چي سره زر او سپين زر خزانه کوي او هغه دالله په لاره کې نه لګوي نو دوی ته د ډير دردوونکي عذاب زيری ورکړه. په هغې ورځې چې د جهنم په اور کې به دغه ( خزانې) ښې ګرمې کړی شي بيا به په هغې سره ددوی تندي او ددوی اړخونه او ددوی شاګانې داغلی شي( او دوی ته به ويلی شی) دا هغه څه دي چې تاسو د خپلو ځانونو لپاره خزانه کړې وو نو تاسو وڅکئ هغه څه چې تاسو خزانه کول.

وعن أبي هريرة رضي الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : (مَن آتَاهُ اللهُ مَالاً فَلَم يؤَدِّ زَكَاتَهُ مُثِّلَ لَهُ مَالُهُ يومَ القِيامَةِ شُجَاعاً أقرَع،لَهُ زَبِيبَتَانِ، يطَوَّقُهُ يومَ القِيامَةِ ،ثُمَّ يأخُذُ بِلِهزِمَتَيه- يعني بشدقيه – ثُمَّ يقُولُ : أنَا مَالُکَ، أنَا كَنزُک، ثُم تَلاَ: (وَلاَ يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللّهُ مِن فَضْلِهِ...). رواه البخاري

ترجمه:- له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي : يو چا ته چې الله پاک مال ورکړی وي او هغه د مال زکات نه ورکوي، د ده دغه مال به د قيامت په ورځ د يوه سرخرييلي مار په بڼه ( هغه مار چې په سرېې ويښته نه وي او دا د ده د زهر لرلو نښه ده ) وګرځي او دا مار به دوه غاښونه لري هغه به د قيامت په ورځ دده دغاړې طوق شي او بيا به هغه په دواړو ژامو کي ونيسي او بيا به ورته وايي : زه ستا مال يم او زه ستا خزانه يم او بيا پيغمبرعليه السلام دغه مبارک آيت تلاوت کړ: (وَلاَ يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللّهُ مِن فَضْلِهِ) .

وعن أبي هريرة رضي الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : (مَامِن صَاحِبِ ذَهَبٍ وَلاَ فِضَّةٍ لاَيؤَدِّي مِنهَا حَقَّهَا ؛ إلاَّ إِذَا كَانَ يومُ القِيامَةِ صُفِّحَت لَهُ صَفَائِحُ مِن نَارٍ، فَأحمِي عَلَيهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَيكوَي بِهَا جَنبُهُ وَجَبِينُهُ وَ ظَهرُهُ ؛ كُلَّمَا بَرَدَت أعِيدَت لَهُ فِي يومٍ كَانَ مِقدَارُهُ خَمسِينَ ألفَ سَنَةٍ حتى يقضَي بَينَ العِبَادِ؛ فَيرَي سَبِيلَهُ : إمَّا الى الجَنَّةِ وَإمَّا الى النَّارِ) . صحيح مسلم

ترجمه:- له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : هيڅ د طلا او نقرې څښتن نشته چې دهغه حق (زکات) نه ورکوي مګر دا چې د قيامت په ورځ به ورته د اور تختې شي او د دوزخ په اور به ګرمې شي د ده ډډه او تندی او شا به پرې داغل کيږي او کله چې دا تختې يخې شي بيا به ګرميږي په هغه ورځ چې اندازه يې پنځوس زره کاله ده، ترڅو د بندګانو ترمنځ فيصله وشي او دوی خپله لاره د جنت يا دوزخ په لوري ووينې.

د زکات مستحقين:-

د زکات مستحق خلک په اسلامي شريعت کې معلوم دي او پرته ددغو کسانو څخه بل چاته زکات ورکول درست نه دي او که څوک غير مستحق کس ته د زکات مال ورکړي، زکات يې نه صحيح کيږي. د زکات مستحق خلک په لاندې آيت کې ذکر شوی دي: (إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاء وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِّنَ اللّهِ وَاللّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ). التوبة : ٦٠

ترجمه:- بيشکه همدا خبره ده چې صدقې (زکاتونه) يواځې د فقيرانو او مسکينانو لپاره دي او دهغو کسانو لپاره دي چې پر دغو باندې عامل( راټولوونکي) مقرر وي او دهغو لپاره دي دچا به زړونوکې چې الفت( مينه او اسلام ته رغبت) اچولی شي او په ( آزادولو د) څټونو ( دمريانو مکاتبانو) کې (به صرف کولی شي) دغه مقرره فريضه ده دالله له جانبه او الله ښه عالم ښه حکمت والا دی.

وعن عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما، عن النبي صلى الله عليه وسلم قال : (لاَتَحِلُّ الصَّدَقَةُ لِغَنِي، وَلاَ لِذِي مِرَّةٍ سَوِي ). ابوداود والترمذي

ترجمه:- له عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: د زکات ورکول غني ته حلال نه دي او نه هم روغ او سالم سړي ته .

په يو بل حديث شريف کې راځي: عن أبي هريرة رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال :(لَيسَ المِسكِينُ الَّذِي تَرُدُّهُ الأكلَة وَالأكلَتَانِ، وَلَكِنِ المِسكِينُ الَّذِي لَيسَ لَهُ غنى، وَيستَحيي أو لاَيسأَلُ النَّاسَ إلحَافاً) . صحيح البخاري

ترجمه:- له ابوهرير رضي الله عنه څخه روايت دی وايي : رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل : مسکين هغه نه دی چې په يوه مړۍ او يا دوه مړۍ پسې د خلکو د دروازو ته ورځي، بلکې مسکين هغه دی چې دهغه سره مال نه وي او حيا کوي ( د چا نه څه نه غواړي) او يا دا چې د خلکو څخه يې په ډېر اصرار نه غواړي .

د زکات مال د پيغمبرعليه السلام اولاد او سيد ته ورکول جواز نلري. عن عبدالمطلب بن ربيعة بن الحارث رضي الله عنه، قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ( إنَّ هَذِهِ الصَّدَقَاتِ إنمَّا هِي أوسَاخُ النَّاسِ، وَإنَّهَا لاَتَحِلُّ لِمُحَمَّدٍ وَلا لآلِ مُحَمَّدٍ). صحيح مسلم

ترجمه:- له عبدالمطلب بن ربيعه بن حارث رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل : يقيناً دا صدقې د خلکو د مال خيري دي او دا حلال نه دي د محمدـصلی الله علیه وسلم- او د ده د کورنۍ لپاره .

خلص مطلب:-

آيتونه او حديثونه د دې بيانونکي دي چې : د زکات مصرف په لاندې ډولونوکې منحصر دی او نوروته يې ورکول صحيح نه دي او هغوی دا دي .

۱-فقراء ، د فقير جمع ده :- هغه چاته ويل کيږي چې مال ولري خو نصاب ته نه رسيږي.

۲- مساکين، د مسکين جمع ده :- هغه چاته ويل کيږي چې هيڅ مال ونلري او له فقير څخه يې حالت بد وي.

۳- العاملون عليها:- هغه کسان چې د زکات په راټولو او د هغه په حساب او کتاب او مستحق ته د هغه په رسولو باندې مقرر وي.

۴- وفی الرقاب:- د غلامانو څخه عبارت دي .( هغه مکاتب مريان چې د خپل ځان آزادولو لپاره بادار ته د پيسو ورکولو څخه عاجز وي).

۵- الغارمون:- د غارم جمع ده هغه قرضدار چې د قرض څخه زيات مال ونلري چې نصاب ته ورسيږي.

٦- وفي سبيل الله :- د هغه چا څخه عبارت دی چې دالله په لار کې جهاد کوي.

۷- ابن السبيل :- دهغه مسافر څخه عبارت دی چې د سفر توښه يې په سفر کې خلاصه شوې وي دومره زکات ورته ورکړ شي چې حاجت يې پوره شي ولو که په وطن کې مال ولري.

نن صبا چې د ژمي سختې شپې او ورځې دي کوم کسان چې غنيان وي دوی ته لازم ده چې د بيوزلو ، مسکينانو، فقيرانو ته لاس ورکړي او دوی ته د زکات مال ورکړي له يوې خوا به يې غاړه خلاصه شي او له بل پلو به د مستحقينو لاس نيوی وشي . که چيرې د ټولنې غني خلک د خپل د زکات مال مستحقينو ته ورکړي زمونږ باور دی چې د ټولنې څخه د فقر او بيوزلۍ سطحه به راښکته شي. او بعضي خلک چې صاحب د نصاب وي زکات ورباندې فرض وي دفقيرانو او مسکينانو په خاطر د وخت څخه مخکې هم زکات ورکولی شي.

پنځمه بناء ، حج :- حج د اسلام د بناگانو څخه پنځمه بناء ده او د دین له ارکانو څخه یولوی رکن دی.

الله تعالی پرغني مسلمان باندې په ټول عمر کې حج یوځل فرض کړی او حج یې له ډیرو غوره عملونو څخه گڼلی دی .

قبول شوی حج هغه دی چې د گناه څه شبهه په هغه کې نه وي یوځای شوې او د داسې حج بدله جنت دی .

نو خوشحالي ده د حاجیانو په حال چې گناهونه یې ښنل شوي دي او دوی د الله تعالی میلمانه دي، الله تعالی دوی راوغوښتل، دوی یې بلنه ومنله او دوی د الله تعالی نه سوالونه او دعاوې وغوښتې، الله یې غوښتنې پوره کړې .

الله تعالی فرمایي: (وَلِلّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ اليه سَبِيلاً وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ الله غَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ) آل عمران : ۹۷

ترجمه:- او خاص الله تعالی لره ( فرض ) دی حج د کور د الله په هغه چاباندې چې د هغه کورته د رسیدو وس ولري او که څوک د دې فرمان له عملي کولو نه انکار وکړي، نو هغه دې په دې پوه وي چې الله له ټولو عالمیانو څخه بې نیازه دی.

الله تعالی فرمایي: (وَأَذِّن فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالاً وَعَلَى كُلِّ ضَامِرٍ يَأْتِينَ مِن كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ * لِيَشْهَدُوا مَنَافِعَ لَهُمْ وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ فِي أَيَّامٍ مَّعْلُومَاتٍ عَلَى مَا رَزَقَهُم مِّن بَهِيمَةِ الأَنْعَامِ فَكُلُوا مِنْهَا وَأَطْعِمُوا الْبَائِسَ الْفَقِيرَ)الحج : ۲۷ – ۲۹

ترجمه:- او ته په خلکو کې د حج اعلان وکړه دوی به تاته پیادل راشي او پر هرخوار ډنگر اوښ باندې چې دغه (اوښان) به راځي له هرې لرې ژورې لارې نه ددې لپاره چې دوی خپلو فائدو ته حاضر شي او په معلومو ورځو کې دالله نوم یادکړي په هغو بې ژبو څارویو باندې چې هغه (الله) دوی ته ورکړي دي نو تاسو له هغو نه خورئ او په بدحال فقیر یې خوري.

وعن عبدالله بن مسعود رضي الله عنه، قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :(تَابِعُوا بَيْنَ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ فَإِنَّهُمَا يَنْفِيَانِ الْفَقْرَ وَالذُّنُوبَ كَمَا يَنْفِي الْكِيرُ خَبَثَ الْحَدِيْدِ وَالذَّهَبِ وَالفِضَّةِ وَلَيْسَ لِلْحَجَّةِ الْمَبْرُورَةِ ثَوَابٌ إِلاَّ الْجَنَّةَ) . رواه الترمذي والنسائي

ترجمه:- له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : حج او عمره دواړه یو په بل پسې اداء کړئ، ځکه دا دواړه فقر او گناهونه داسې لرې کوي لکه د پښ (آهنگر) کوره چې د اوسپنې، سرو او سپینو زرو خیرې لرې کوي او د مقبول حج ثواب له جنته پرته بل څه نه دی .

عن أبي هريرة رضي الله عنه قال : قال النبي صلى الله عليه وسلم :( مَن حَجَّ هَذَا البَيتَ فَلَم يرفُث وَلَم يفسُق ؛ رَجَعَ كَيومِ وَلَدَتهُ أُمُّه) . متفق عليه

ترجمه:- له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : څوک چې د ( الله ) د دې کور حج اداء کړي او د بی حیایئ خبرې ونه کړي او د الله له پیروی نه د باندې نشي، داسې خپل کورته راستنیږي لکه د موره چې نوی دنیا ته راغلی وي .

وعن جابر، قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :(الحُجَّاجُ وَالعُمَّارُ وَفدُاللهِ ؛ دَعَاهُم فَأَجَابُوهُ، وَسَأَلُوهُ فَأَعطَاهُم). رواه البزار

ترجمه:- له جابر رضي الله عنه څخه روایت دی وایي: د الله پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل :حج کوونکي او عمره کوونکي د الله تعالی ډله (میلمانه) دي، الله تعالی هغوی راوغوښتل، نو دوی یې غوښتنه قبوله کړه او دوی د الله نه دعاوې وغوښتې، نو الله تعالی د دوی غوښتنې قبولې کړې .